مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

خالق رشيد

۲۰۲۲/۱۲/۲۱

کيسه يي طرحه:

# سمبوليک تابوت

## د نجونو پرمخ د پوهنتونو تړلوغميزې په پار!



نوې يې له نويو تختوجوړکړی تابوت زموږ دلويې کلا په دروازه کې له زاړه امبولانس څخه ږيره ورو سړي وژنونکو،په کرارکراره سره راکښته کړ، هيڅوک نه پوهيدل چې دا به دچا وي، څوک به په کې ايښي وي، څوک به يې نن بيا په کومه ګناه وژلی وي ...
دسترګوپه رپ کې کلي هنګامې پرسرواخيست، نر، ښځې، واړه او زاړه ګرده د لويې دروازې مخې څوک سرلوڅي اوڅوک پښې لوڅې راووتل،
يوسړي وژونکي د ګواښ په چم خلکوته مخامخ لاس په خوله ونيو، چې ګواکي غږ پورته نه کړئ ...
هيچا هيڅ هم نه ويل، ټولو يوه اوبل ته کتل، هيچا لا داهم نه شوای ويلای چې داڅوک دی اويا څوک ده ؟ ...
تابوت پروچه مځکه دلويې کلا دروازې ته مخامخ ايښی دی، په څنګ کې ديوال غوندې ليکه کليوال دريدلي، يوازې يو يو، له يوه بل سره په واړې ختلي ډول يو پس پس وکړي :
-داڅوک دی ، څوک به وي ؟
هغه بل بيا په پس پس سره ځواب ورکړي :
- نه پوهيږم ، هرڅوک چې دی سخت وژل شوی، وينې يې ګورې چې اوس هم له تابوته د باندې را بهيږي ...
ټول کلي وارخطا دي، ځکه چې دهرکوريونه يوڅوک په خوارئ اوغريبۍ پسې ورک دي، يوشميربيا د دين اوايمان په نامه د دين اوايمان پلورل شويو ټيکدارانو پردغه اوهغه بهانه له ځان سره کړي اود امريکا په نامه يې دامريکا له پاره د انتحارپه نشه کې پرنامعلوموخواوو تللي دي ...



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولـئ

چي ځینوخویي خپلومیندوته دهغې اودغې دنیا، دحورو اوغلمانوعکسونه هم را لیږلي اوورته لیکلي يي دي چي دوی دغه لوی ویاړته په لین کي ولاړدي، دهغوي خپلوان چي تابوت ته ګوري ترټولوډیروارخطا دي... او فاطمه ترورترټولو زیاته... څکه خویی په زړه کي ورتیره شي :
-هغه زما ملاکی جنتي زوی نه وي.... وخدای چي هغه نه وي ...
خوشیطان يي مخي ته ودریږي او ورسره سترګي په سترګو شي :
-پرون خو دي دعا کوله چي خدایه ته يي پرخپل دغه مقام باندي کامیاب کړې... هم هغه دی کامیاب شو، ستا دعا ورته قبوله شوه ....
خواداچي خوارکی مورده، بیرته زر ځان غلی کړي او په زړه کي ورتیره شي :
-نه خدای دي نه کړي، یوبد مي په ذهن کي راتیرشوي.... نه نه خدایه ته يي راته وساتي ... نه غواړم چي په حورو اوعلمانوپسي يي ولیږم ... نه نه .... خدایه ! ...
خوتابوت لاهم پرځمکه ایښي دی ، څوړیره ورسړي وژونکي يي په څنګ کي چي ظاهراً مسلمان ښکاري له درنو توغندیوسره ورته ولاړدي اوچا ته اجازه نه ورکوي چي یا يي په باره کي وغږیږي اویاهم تابوت ته ورنږدې شي .
یوازي یوه يي د سورګل آکا د پوښتني په ځواب کي ویلي ول :
-مولوي صاب پرموړ پسي را روان دی ، څوهغه نه وي راغلي څوک تابوت لاس نه شی وروړای ...
سورګل آکاته څکه ځمکه ځای نه ورکوي چي یوکال دمخه يي لوردکانکورپه آزموینه کي پوهنتون ته کامیابه شوي وه ، او اوس نارامه وچي پرهغې يي څه تکه نه وی را اچولي ... څکه هرځل چي له تابوته راوتلي وینې ته ګوري، زړه يي ودربیږي اوپه ذهن کي يي یوغږ ورتاو را تاوشي :
-ته زما وینه نه پیژني؟ نه يي پیژني، نه یی پیژني ....زه يي ویشتلي يي یم،هو، زه، زه خوره،ستا محصله لور ...

فاطمه ترورخومي درته وښوده چي زوی يي ځان د انتحاریانوپه لین کي د حورو اوغلمانود وصال په هیله په لین کي درولی دی، همدغه دوې اونورې صحني وې چي دتولوکلیوالو واړې پرهمدغه لامل تابوت ختلي دي اونه پوهیږي، چي کله به (صاب ) را رسیږي اود تابوت سربه خلاصوي اوبیا يي په ډاګه کوي چي څوک يي په کي راوړي اوکومه کورنی يي نن بیا دغم پرټغرکینولې ده؟ له یوې اوبلي خوا درګرده له آه وفریاد سره همدغه زمزمي ترغوږ کیږي ،
-دا صاب ولي نه راځي، ورځ هم ترغرمي واوښته ...
-کور دي دده وران شي ،
-وطالب ګله ووایه چي په دغه تابوت کي موڅوک نیمه خوا کړی ...
ورځ تولله تیره شوه، دوه طالب توپک والا، دلته له تابوت سره په ماشه سپاره ناست دي، له چا سره نه خبري کوي اونه يي هم دښه اوبد غږ تري خولي راوځي ...
له تابوت څخه دوینولیکه نوره هم دخلکوپرلوراوړده شوه ، ورځ هم په مازدیګرودریده چي دیوه طالب توپک والا خیرن موبایل سره وشرنګیده ، لا يي سلام نه و ورته ویلي چي له هغې خوا يي واوریدل :
-صاب ته په لاره کي داعش بم ایښي، هغه وژل شوی زر ځانونه له هغه ځایه را وباسئ ... پرتابوت ما بوت پسي مه ګرزئ ...
سورګل ماما ته په زړه کي هم هغه نامتوخبره ورتیره شوه :
-دخره پوستکی او د سپي غاښونه ...
پرتابوت پیره دارتول په بیره خپل موټرته وختل ، پرته له دي چي دتابوت اومړي په باره کي څه ووایی پرراغلي لار بیرته مړه اووارخطا ځټونه ورغبرګ شول،
کلیوالولاهم تابوت ته کتل، چي په سپره میدان له سړي وژونکوڅخه پاتي شو، دهیچا لاس نه وراوږدیده ... هیچا زړه نه شوای کولای چي پرهغه باندي لاس ولګوي، فضا داسي را تنګه شوي وه چي تول له تابوت څخه ډاریدل ...
لا دسګني ماښام څپه نه وه را خوره شوي چي فیروزه ترورله کومي خوا را پیداشوه ، له لاولوره ستړې لورپه لاس کي ، تکری يي له سره لویدلی پرخلکو راننوته اوچي غږ يي کړ :
-لري شئ ، چا ته ګورئ ، له چا اجازه اخلئ ، دخدای امرشوی ، هرڅوک چي دي پرموړ دي، پرموړ خوارانو، موړ باید یوه شوچي دچا مټ اووزر مات شوی دی ؟ .. .
خپل لوریي دتابوت ترمیخ لاندي کړ، دتابوت د سرتخته يي ماته کړه، بله تخته يي هم د لاره پرڅوکه والوزوله، کفن يي له یوې اوبلي خوا په بسم الله سره واړاوه راواړه ، سترګي يي پرګنو وینتوباندي ولګیدې، پرګنوتورو اوږدوزلفو، چي پرتول مخ باندي را غوړیدلي وې ...بسم الله يي پرخوله روانه وساتله ...
خوترور یوه شوه ... د سورګل آکا پرلوریی له اوښکوډکوسترګو لاره ورکړه کړه، په چغوشوه، اوسورګل آکا ته يي غیږه ورکړه :


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

-وروره ، آه ، وروره دا خو خوره ده .... خوره ، خوره ، ای ربه ، ای لویه خدایه دا یوه لوردې هم راباندې ونه لوریده چې ....
سورګل آکا وچ لرګي شوی و، دخورې ورمه ورځني خبرې وریادې شوې چې په ژړا ژړا یې ورته ویلي ول :
- پرموږ پوهنتون بندوي، پرموږ ژوند بندوي اوپرموږ د انسانیت پیژندنې دروازې تړي ... هو، موږ وژني ، موږ وژني ...
دخورې پرتابوت باندې دکلي ټولوښځوله ډیره درده ترناوخته پورې سرونه ووهل، ټول په ویراوښتی ول ځکه چې دا دټول کلي یوازنی شمه وه چې دوی یې د رڼا په تمه وو :
-خوره به ډاکتره شي ... خوره به زموږ زخموته پټی شي ... اوخوره به ...
کلی ټول ترسبا پورې ویښ پاتې شو، خونه پوهیدل چې پرهغې به څه تیرشوي وي، چا به وژلې وي، یوازې دامعلومه وه چې دا د پوهنتون په لیلیه کې وه ، هرڅه چې ول ، هم هلته پرې تیرشوي ول... د خورې سینه غلبیل غلبیل شوې وه، سهارمهال وچې کوم چا د سمبولیک تابوت پرلاندنی برخه باندې سرییش شوی کاغذ راوشکاوه، ډله پرهغه کاغذباندې را ټول شول، ویې لیدل چې پرهغه یوازې یوه وره خو دردونکې جمله لیکل شوې وه چې :
**« نورې هم پوهنتونوته خپلې لونې واستوئ ... »** ؟؟؟

پای
د ۲۰۲۲ کال د ډسامبر ۲۱


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولئ